# پۀ کربلا کښې ځان قربانوونکي

**11-July-2024**

هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے
د سنّتو ډک بیان
(for Islamic Brothers)



پهٔ 11 جولائي کال 2024ء (4 مُحَرَّم شريف، 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# پهٔ کربلا کښې ځان قربانونکي

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ د صحابئ رسول د جنَّت سره شوق
- ___د کربلا د وړومبي شهيد نا اشنا ارمان
- ___ پهٔ کربلا کښې د ځان قربانونکو عبادتونه
- ___ د کربلا والؤ د ايمان جذبه


پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

**For Feedback**:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف

(**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِیَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت احمد بن ثابت مَغربي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما د قبلې په لور مخ كړے وو او د دُرُودِ پاک په موضوع باندې مې مضمون له ترتيب وركولو۔ ناڅاپه ما له خوب راغلو او زهٔ اوده شوم۔ ما په خوب كښې د الله پاک مقربې فرښتے ❀ حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ❀ حضرت ميكائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ❀ حضرت اسرافيل عَلَيۡهِ السَّلَام ❀ او حضرت عزرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام وليدلې۔ (د دې دريو مقربو فرښتو سره د خبرو ذِكر كولو وروستو شيخ احمد بن ثابت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:) ما حضرت عزرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته عرض وكړو: زهٔ د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله دركووم او خواست كووم چې تاسو زما نه د ساه اخستو په وخت ما سره نرمي وكړئ۔ (هغوئي) ووفرمائيل: په رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په كثرت سره درودِ پاک لوله۔ (1)

آس ہے کوئی نہ پاس ایک تمہاری ہے آس | بس ہے یہی آسرا تم پہ کروڑوں درود (2)

---

1... سعادة الدارين، صفحه:125 ملخصًا۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:267۔

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو نه علاوه ما د بَل چا نه طمع نه ده ساتلې، نهٔ څوک داسې شته چې د هغهٔ نه طمع وساتلے شي، زما خو بَس هم تاسو آسرا او سهارا یی، پهٔ تاسو دې کروړونه درودونه وي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت حُر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ځان قربانول

د 61 هجری خبره ده، د **مُحرَّم شریف** میاشت وه، 10 تاریخ وو، د جُمعې ورځ وه، د کربلا پهٔ میدان کښې د اهلِ بیتِ اَطهَار امتحان وو۔ اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ څوک چې د اهلِ بیتو د قافلې مشر وو، هغوئي د پوهه کولو آخري کوشش (یعني د آخري خبرداري) د پاره د یزیدیانو ظالمانو مخې ته تشریف یوړلو، کم او زیات 12 زره لښکر یې مخې ته ولاړ وو، د دې باوجود د هغوئي پهٔ مخ مبارک باندې هیڅ ویره ترخه نه وه، هغوئي میدان ته تشریف یوړلو، د یزید فوځ یې د الله پاک د عذاب او د دوزخ د وور نه ویرولو، هغوئي ته یې ووئیل چې زهٔ حُسَین (رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ) یم، ستاسو د نبي نمسے یم، د سیده پاک بَتُول زَهرَاء رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا شهزاده یم، دا ظلم مهٔ

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

کوئ! زمونږ سره جنګ مۀ کوئ او خپل آخرت مۀ بربادوئ!

هغه وخت د يزيد پۀ فوځ کښې يو ښائسته بهادر موجود وو، د هغوئي نوم **حُر بن يزيد** وو۔ د هغوئي زړۀ څۀ خو د مخکښې نه ناقلاره وو، د حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خطبه چې يې واوريدله نو د هغوئي ناقلاري نوره هم زياته شوه، دومره ناقلاره شو چې پۀ يو ځائے ودريدے نشو، د يزيد د لښکر د مشر عَمر وبن سعد خوا له لاړو، اوئې وئيل: تۀ که د اِمامِ حُسَين سره جنګ کوې نو رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له به څۀ جواب ورکوې؟ د عَمر وبن سعد سره د دې سوال څۀ جواب نه وو خو افسوس چې کله د دُنيا مَحَبَّت زړۀ راګير کړي نو هيڅ نصيحت پرې اثر نه کوي۔۔۔!! پۀ عَمر وبن سعد باندې هم نصيحت هيڅ اثر ونکړو۔ حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې ځائے نه مايوسه شو او واپس ميدان ته راغلو، بدن يې ړچيږي، مخ يې زيړ دے، د پريشانی نخښې يې پۀ مخ صفا ښکاري، زړۀ يې دومره پۀ زوره درزيږي چې پۀ خوا کښې ولاړ سپاهيان يې هم حيران دي۔

د دوئي ورور مُصعَب هم ورسره پۀ خوا کښې موجود وو: پوښتنه يې وکړه: وروره۔۔۔!! تۀ بهادر يې، بهترين جنګيالے يې، تۀ پۀ وړومبي ځل خو جنګ له نه يې راغلے۔۔۔!! تا خو ډيرو بهادرانو له شکست ورکړے دے، بيا نن څۀ معامله ده؟ دا ناقلاري ولې ده؟ حضرت حُر د اهلِ بيتو پۀ مَحَبَّت کښې ډوب حالت کښې د الله پاک د ويرې نه د لړزيدو سره ووئيل: خبره دا ده چې دا جنګ د خوږ مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګانو سره دے، د چا دښمن سره نه دے بلکې هم د خپل آخرت سره جنګ دے، زۀ دا وخت د جنّت او دوزخ ترمينځه ولاړ يم، دُنيا پۀ پوره طاقت سره ما د دوزخ پۀ لور راښکي، ځکه مې زړۀ درزيږي۔

| | |
|---|---|
| حُر نے فرمایا: برادر! تجھے یہ بھی ہے خبر | اس لڑائی میں مُقابِل ہے پیمبر کا پِسَر (بیٹا) |
| عاقبت سے جسے لڑنا ہو بِلا خوف و خطر | اس لڑائی میں دِکھائے وہ دلیری کے ہنر |

درمیانِ دوزخ و جنّت کے کھڑا ہوں میں یہاں | خوفِ دوزخ سے ہُوں اس وقت بے تاب و تواں

اوس لا دا خبرې کیدې چې یو واري بیا اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اواز وکړو او اوئې فرمائیل: **داسې څوک شته چې پهٔ آلِ رسول باندې ځان قربان کړي او د رسولِ کائنات** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **پهٔ حُضُور کښې کامیابي بیامومي۔۔۔!!**

الله! بس د دې اواز اوریدو انتظار وو چې حضرت حُر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه اَس پهٔ منده کړو، یزیدیانو ظالمانو دا ګڼل چې شاید پهٔ اِمامِ عالي مقام باندې حمله کوي خو دلته خو معامله څهٔ بَل شان وه، حضرت حُر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د اِمامِ عالي مقام رَضِـیَ اللهُ عَـنْهُ پهٔ خدمت کښې حاضر شو، د اَس نه راکوز شو، پهٔ اَدَب باندې ودریدو، عرض یې وکړو: اے اِبنِ رسول! زهٔ هم هٰغه حُر یم، چا چې مخکښې ستاسو لار نیولې وه، زما غلطي معاف کړئ! او نن راله پهٔ اهلِ بیتو باندې د خپل ځان قربانولو اجازت راکړئ! اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي معذرت قبول کړو او هغوئي یې پهٔ خپل لښکر کښې شامل کړل۔

حُرّ کو جنّت بھی ملی، اَوجِ شہادت بھی مِلا | اِک نظر میں شاہ نے قطرے کو دریا کر دیا

چې کله د حضرت حُر ورور مُصعَب بن یزید دا منظر ولیدو نو هغوئي هم پهٔ جوش کښې راغلل، هغوئي هم اَس پهٔ منده کړو او د اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ پاک لښکر کښې شامل شو۔

پهٔ میدانِ جنګ کښې دا دواړه ورونړه او د دوئي یو غلام ښه وجنګیدل، یواځې حضرت حُر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه تقریباً 40 یزیدیان دوزخ ته ورَسَوَل [1] آخر زخمي شو او زمکې له یې تشریف یوړلو او د شهادت مرتبه یې حاصله کړه او د جنَّت پهٔ لور روان شو۔ [2]

---

[1]... شامِ کربلا، صفحہ:255۔

[2]... سوانح کربلا، صفحہ:146 تا 150 ملخصاً۔

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وررور مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: چې کله حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زخمي شو او زمکې له يې تشريف يوړلو نو هغوئي اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اواز وکړو، اِمامِ عالي مقام ناقلاره شو او تشريف يې ورووړلو، د يزيديانو سره په جنګيدو يې خپل ننګيالي له ځان ورسولو، حضرت حُر يې د ميدان نه راوچت کړو، د خيمې خوا له يې تشريف يوړلو او **سُبْحٰنَ الله!** اِمام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سَر په خپله مبارکه غيږه کښې کيښودو، ډير په مَحَبَّت يې د هغوئي تَندے او مخ صفا کړو، حضرت حُر لا ژوندے وو، هغوئي سترګې وغړولې، مُسکے شو او اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وکتل او عرض يې وکړو: حُضُور!! اوس خو تاسو زما نه خوشحاله يئ؟ **اِمامِ عالي مقام ووفرمائيل: آؤ! زۀ راضي يم، الله دې هم ستا نه راضي شي!!** حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا زيرے واوريدو او هم د دې سره د هغوئي رُوح د هغوئي د بدن نه پرواز وکړو۔ [(1)]

آرزو یہ ہے کہ نکلے دم تمہارے سامنے | تم ہمارے سامنے ہو ہم تمہارے سامنے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د جنَّت په لور وړاندې تلل د همت خبره ده

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** الله پاک دې د حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قرباني قبوله کړي، لږ غور وکړئ چې دا څومره د همت خبره ده!! حضرت حُر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يقيني معلومه وه چې د يزيد د لښکر نه د وتو مطلب شهادت دے ❀ د هغوئي اولاد هم وو ❀ کور والا يې هم وو ❀ هغوئي ته معلومه وه چې زما يوه فيصله به زما بچي يتيمانان کړي ❀ د دې باوجود هغوئي څومره همت وکړو ❀ يو خوا عهده ده ❀ منصب دے ❀ عزت دے ❀ شُهرت دے ❀ دولت دے ❀ او بَل خوا جنَّت دے ❀ هغوئي عهده ❀ منصب ❀ دولت ❀ عزت وغيره هر څۀ پريښودل او د جنَّت په

[1]... آئينہ قيامت، صفحہ:67۔

لور وروړاندې شو۔ **پهٔ روایتونو کښې دي:** چې کله حضرت حُر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د یزید د لښکر نه ووتلو او د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ پهٔ خدمت کښې حاضر شو نو یو یزیدي ورته غږ وکړو: اے حُر! مونږ خو تهٔ عقلمند ګڼلې، نن تا دا څنګه فیصله وکړه...؟ اکثریت د یزید پهٔ لور دے، ګټه به یزید کوي، مال او دولت د یزید سره دے، حکومت د یزید دے، دا هر څهٔ دې پرېښودل او تهٔ د اِمام حُسَین خوا له لاړې؟

اوس د حضرت حُر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ایمان تازه کوونکے جواب واورئ! هغوئي ووفرمائیل: ما پهٔ جنَّت او دوزخ کښې د جنَّت فیصله وکړه، **پهٔ خدائے مې دې قسم وي...!! که زهٔ ټکړې ټکړې شم، وسیزلے شم خو پهٔ جنَّت باندې به هیڅ څیز له هم ترجیح ورنکړم۔** (1)

| | |
|---|---|
| ہزاروں میں بہتر تَن تھے تسلیم و رضا والے | حقیقت میں خُدا اِن کا تھا اور یہ تھے خُدا والے |
| یہ نعرہ حُرّ کا تھا جس وقت فوجِ نار سے نکلا | کہ دیکھو! یُوں نکلتے ہیں جہنّم سے خُدا والے |
| حُسَین ابنِ علی کی کیا مدد کر سکتا تھا کوئی | یہ خُود مشکل کشَا تھے اور تھے مشکل کشَا والے |
| دوائے دَرْدِ عصیاں پنج تن کے دَر سے ملتی ہے | زمانے میں یہی مشہور ہیں دارُ الشِّفَا والے |

**سُبۡحٰنَ اللّٰه!** دا دے ایماني سوچ...!! دا ده ایماني فیصله...!! دا همت اسان نه وي، دا حوصله اسانه نه وي، الله پاک چې د چا سره د خیر اراده ووفرمائي، دا همت هم هغوئي کوي۔

## د جنَّت پهٔ لور منډې کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ دې کښې زمونږ د پاره هم سبق دے، لږ غور وکړئ! ❁ آیا مونږ ته معلومه نه ده چې پهٔ نمونځ کولو جنَّت میلاویږي؟ پهٔ نه کولو کښې د دوزخ حقداري ده؟ مونږ ته معلومه ده خو ترجیح څهٔ له ورکولے شي؟ افسوس چې خلق کار روزګار له ترجیح ورکوي، دکانداری له ترجیح ورکوي، د دُنیا

---

[1]... البدایہ والنہایہ ، جز:8، جلد:4، صفحہ:577۔

ضروري کارونو له ترجيح ورکوي، د معمولي معمولي کارونو د پاره جَمعه پرېږدي بلکې نـمونځ هم قضا کوي ❁ مونږ ته معلومه ده چې په روژه نيولو جنّت ميلاوېږي خو ځومره داسې خلق دي څوک چې د رَمَضَانُ المُبَارَک فرض روژې هم قضا کوي ❁ مونږ ته معلومه ده چې په تلاوت کولو جنّت ميلاوېږي خو افسوس چې تر ډېرو مياشتو پورې مو د قرآن کريم زيارت هم نهٔ نصيب کېږي ❁ مونږ ته معلومه ده چې د ذِکرُ الله په برکت جنّت ميلاوېږي خو د فضول ګپ شپ نه، د سوشل ميډيا نه، د فيس بُک، انسټا ګرام او ټوئيټر وغيره نه هډو وزګارېږو نه ❁ مونږ ته معلومه ده چې ښه اخلاق جنّت ته د تللو ذريعه ده خو څهٔ وکړو؟ غُصه ډېره راځي ❁ مونږ ته معلومه ده چې د مور پلار خِدمت په دواړو جهانونو کښې د کاميابۍ ذريعه ده ❁ مونږ ته معلومه ده چې رښتيا د جنّت او دروغ د دوزخ لار ده ❁ مونږ ته معلومه ده چې جنګ جګړې، کنځلې وغيره دوزخ ته د تللو سبب دے ❁ مونږ ته دا هم معلومه ده چې د سندرو سازونو وغيره ګناه دوزخ ته بوتلل کوي خو افسوس۔۔!! دلته عام طور جنّت ته بوتلونکو اعمالو ته نهٔ بلکې د دوزخ حقدار جوړونکو کارونو له ترجيح ورکولے شي۔

**اے د اهلِ بيتو عاشقانو!** واورئ چې د حضرت حُر رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه ژوند مونږ ته دا سبق راښائي چې که سر کټ کېږي نو کټ دې شي، که ژوند د لاسه ځي نو لاړ دې شي خو چې د يو مسلمان قدم پورته کېږي نو صرف د جنّت په لور پورته کېږي، که يو مسلمان طلبګار دے نو صرف د جنّت طلبګار دے، مسلمان مال او دولت، عيش او عشرت، شهرت او عزت ته نه ګوري، يو رښتونے مسلمان د الله او د رسول په رضا پسې ځي او جنّت ته د تللو کوشش کوي۔ هم دا د مسلمان شان دے او هم د دې مونږ ته حُکم راکړے شوے دے۔ الله پاک په قرآن کريم کښې فرمائي:

وَسَارِعُوۡۤا اِلٰى مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ ۙ

اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۳۳﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د خپل رَبّ بخښنې او د هٰغه جَنَّت طرف ته منډې کړئ چې د هغې فراخي د آسمانونو او زمکې برابره ده۔ هغه د پرهيزګارو د پاره تيار کړے شوے دے۔ (پاره:4، ال عمران:133)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې په آيت مبارک کښې صفا فرمائيلے شوي دي چې د جنّت په لور منډې کړئ او ورسئ...!! کوم جنّت...؟ هٰغه جنّت که چرې 7 واړه اسمانونه يو ځائے وغوړولے شي، بيا 7 واړه زمکې هم داسې يو ځائے کړي شي او وغوړولے شي نو چې څومره فاصله جوړيږي، د جنّت پلن والے دومره بلکې د دې نه هم زيات دے او دا خو د دهٔ د پلن والي خبره ده، اوږد والے څومره دے، پهٔ دې خو عقل هډو کار نه کوي بلکې علمائے کرام فرمائي: **دا هم صرف د جنّت د يوې طبقے پلن والے دے، باقي جنّت څومره غټ دے، د دې هډو اندازه نشي لګيدے۔** (1)

نو الله پاک فرمائي: اے زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو! د هٰغه عظيمُ الشّانه جنّت پهٔ لور منډې کړئ...!! پهٔ تادۍ لاړ شئ! ګورئ چې مونږ پهٔ دې دُنيا کښې سفر کوو ❁ څهٔ سفر پيدل کولے شي ❁ څهٔ پهٔ سائيکل يا موټر سائيکل باندې کولے شي ❁ څهٔ سفر پهٔ بس يا موټر وغيره کښې کولے شي ❁ او که چرته ډير زر تلل وي نو د جاز پهٔ ذريعه هوائي سفر کولے شي، يعنې پهٔ اوسني وخت کښې د ټولو نه تيز سفر د جاز دے، الله پاک مونږ ته حکم وکړو چې د جنّت پهٔ لور منډې کړئ! مطلب څهٔ دے؟ دا چې څومره تيز سفر تاسو کولے شئ، هٰغه همره تيز سفر وکړئ او د جنّت پهٔ لور لاړ شئ...!! څنګه رسيدل دي؟ ❁ پهٔ نمونځونو کولو ❁ پهٔ روژو نيولو ❁ د حج پهٔ ذريعه ❁ پهٔ عمره کولو ❁ د دُرُودِ پاک پهٔ کثرت کولو ❁ د نيکۍ پهٔ کارونو کښې پهٔ تادۍ کولو ❁ د ښو اخلاقو پهٔ ذريعه ❁ د عِلمِ دِين زده

---

1... تفسيرِ نعيمی، پاره:4، ال عمران، زير آيت:133، جلد:4، صفحہ:203 مفهوماً۔

کولو د کوشش کولو پهٔ ذريعه ❀ د مور پلار پهٔ خِدمت کولو ❀ د خوږ نبي، ښه نبي، رښتوني نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو اختيارولو ❀ پهٔ ګيره پريښودو ❀ د عمامې پهٔ سر کولو ❀ د الله پاک پهٔ لار کښې پهٔ سفر کولو ❀ د نيکۍ پهٔ دعوت عام کولو ❀ پهٔ مَدَني قافلو کښې پهٔ سفر کولو ❀ پهٔ نيک اعمالو باندې د استقامت پهٔ ذريعه ❀ غرض هر هٰغه کار کوم چې جنَّت ته بوتللو والا دے چې مونږ په هغې کښې تادي وکړو، د هغې کارونو پهٔ لور پهٔ منده لاړ شو، د دې پهٔ برکت به د جنَّت پهٔ لور وړاندې ځو۔ الله پاک دې مونږ ته د جنَّت شوق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دا د تېوقو وخت نه دے...!!

د کربلا والؤ د جنَّت سره ډېر شوق وو، يو روايت واورئ! پهٔ 10 **مُحَرَّم شريف** سحر چې بس جنګ شروع کيدو والا وو، د دې نه لږ شان د مخکښې وخت خبره ده، **حضرت عبد الرحمان بن عبدُ الرَّبّ** او **حضرت بَرير هَمدَاني** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا يو ځائے ولاړ وو، حضرت بَرير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت عبدُ الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د خوش طبعۍ والا خبرې شروع کړې۔ حضرت عبد الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائيل: بَرير! دا کوم وخت دے د داسې خبرو کولو...؟ اوئې فرمائيل: زما قوم ته معلومه ده چې زهٔ سنجيده انسان يم خو پهٔ خدائے مې دې قَسم وي! **دا وخت زهٔ ډېر خوشحاله يم، اوس به مو بس لږ سعت پس شهادت نصيب شي او مونږ به جنَّت ته لاړ شو۔** [(1)]

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** شوق ته وګورئ چې څومره ځانګړے دے! مخې ته يې 12 زره لښکر ولاړ دے، شهادت بالکل يقيني دے، د دريو ورځو راسې اوبه بندې دي، مشکلاتو د هر اړخ نه راګير کړي دي، بعضې خلق د کربلا د واقعې بيانولو سره کربلا والا ډېر ناچاره، ډېر بے وَسه ښائي، خو حالت څهٔ وو؟ دا خوش قِسمته د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي او د زړهٔ نه خوشحاله وو، پهٔ خپل

[1]... تاريخ طبرى، السنة الحادية و الستون، فيها مقتل الحسين، جلد:3، صفحه:318 مفهوماً۔

مینځ کښې یې خوش طبعي کوله او په کومه خبره خوشحاله وو۔۔!! چې ډیر زر به مو شهادت نصیب شي، په اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ باندې به ځان قربانول نصیب کیږي او مونږ به د جنَّت د مالک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په کَرم سره جنَّت ته ځو۔

شہادت ہے مطلوب و مقصودِ مؤمن | نہ مالِ غنیمت، نہ کِشْوَر کشائی[1]

**وضاحت:** د مؤمنانو شان دا دے چې نه دوئي مالِ غنیمت غواړي، نه جنډې لګول غواړي، د دوئي مقصد، د دوئي مطلوب خو صرف دا وي چې د الله پاک په نوم باندې ځان قربان کړي او په دې وجه کامیاب شي۔

## د صحابئ رسول د جنَّت سره شوق

د حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، فرمائي: د غزوهٔ اُحُد موقع وه، یو کَس په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو څهٔ فرمایئ: که زهٔ د الله پاک په لار کښې جنګیږم او شهید شم نو چرته به ځم؟ اوئې فرمائیل: **جنَّت ته**۔ راوي وائي چې د هٰغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره هٰغه وخت په لاس کښې کجورې وې، هغوئي هٰغه کجورې هم اونه خوړلې، د جنګ میدان ته لاړو او د غیر مسلمو سره په جنګیدو کښې شهید شو۔ [2]

**سُبْحٰنَ الله!** څومره د کمال شوق دے۔۔!! په لاس کښې یې کجورې دي خو په صحابئ رسول جنَّت ته د تللو تادي وه، په یو څو کجورو خوړلو به څومره وخت لګي، یو څو سیکنډه یا یو منټ به پرې لګي خو جنَّت ته په تللو کښې چې دومره هم ایسار شي، دا د صحابئ رسول هم خوښه نه وه۔

**اَللّٰهُ اَکْبَر!** زمونږه حال څهٔ وي۔۔!! د رَمَضَانُ المُبَارَک نه به نمونځونه شروع کووم۔ د جُمعې په ورځ به توبه کړم، د سبا نه به دا کار کووم؟ مونږ به د رَمَضَانُ المُبَارَک

---

[1] ... کلیاتِ اقبال (اردو)، بالِ جبریل، صفحہ:432 ۔

[2] ... بخاری، کتاب المغازی، باب غزوۃ احد، صفحہ:1017، حدیث:4046۔

پورې ژوندي پاتې شو، دا ګارنټي د چا سره ده؟ سبا چا ليدلے دے، جنَّت ته تلل دي، جنَّت ته بوتلونکي کارونه کول دي، په دې کښې يو منټ هم ناوخته کول نه دي پکار، د جنَّت په لور هم نن او د اوس نه سفر شروع کول پکار دي۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔
راځئ چې د اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د نيکه بابا جان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې درخواست پيش کړو:

گھر چھٹے یا سَر کٹے پَر گم نہ ہو دِین کی دولت اے نانائے حُسَین!
ہُوں گناہوں کا مریضِ دائمی دُور ہو شامت اے نانائے حُسَین!
واسطہ غوث و رضا کا دُور ہو ہر بُری خصلت اے نانائے حُسَین!
نیکیوں میں دِل لگے ہر دَم، بنا عامِلِ سُنّت اے نانائے حُسَین!
میں گناہوں سے سدا بچتا رہوں کیجئے! رحمت اے نانائے حُسَین!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په کربلا کښې ځان قربانوونکو ته سلام

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د **مُحَرَّم شريف** مبارکې ورځې دي، د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ او د کربلا د واقعې يادونه په زړونو کښې تازه دي۔ څومره خوش قِسمته دي هٰغه خلق د اوچتې مرتبے خلق څوک چې د کربلا په ميدان کښې د اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ سره وو، د هغوئي د اوچت دِيني مقصد د پاره يې خپل ځانونه قربانول۔ بعضې وخت په ذهنونو کښې خيال راځي چې دا ټول خلق کوم چې په کربلا کښې شهيدان شول، دا ټول اهلِ بيت وو بلکې بعضې نادانه اعتراض هم کوي چې په صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم کښې خو هيڅوک هم د اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ سره نه وو۔ دا غلطه خبره ده او د معلوماتو د کمي له وجهې ده ✿ اول خو وګورئ چې اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ خو د جنګ د پاره کربلا ته نه وو راغلے، آيا د جنګ د پاره چې څوک ځي

نو د ځان سره ماشومان او زنانه هم بوځي۔۔؟ که اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د جنګ په اِراده تشريف راوړلو نو د صحابهٔ کرامو په زرګونو لښکر به هم د هغوئي سره ضرور وو ❁ دويمه خبره دا ده چې کومو خوش قِسمتو د کربلا په ميدان کښې خپل ځانونه قربان کړل، هغه ټول اهلِ بيت نه وو، په دې کښې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم هم وو او تابعين هم وو۔ د کربلا په ميدان کښې د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د قافلې د ټولو کَسانو شميره 72 يا 82 او د بعضې روايتونو مطابق د 100 نه لږه زياته وه، په دې کښې د 18 نه تر 20 پورې کَسان اَهلِ بيت وو، باقي پاتې ټول صحابهٔ کرام او تابعين وو۔ مثلاً ❁ حضرت اَنس بن حارث رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، هغوئي د کربلا په ميدان کښې شهيد شو [(1)] ❁ حضرت حَبيب بن مُظَهّر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، د کربلا په ميدان کښې شهيد شو [(2)] ❁ حضرت عبد الله بن يَقطَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، د کربلا په ميدان کښې شهيد شو [(3)] ❁ حضرت عَمّار هَمداني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، په کربلا کښې شهيد شو [(4)] ❁ حضرت شَبيب بن جَرّاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صحابئ رسول ځوي دے، په کربلا کښې شهيد شو [(5)] ❁ حضرت خُفَينه بن قيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صحابئ رسول ځوي دے، په کربلا کښې شهيد شو۔ [(6)] ❁ حضرت قيس بن مُسهر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صحابئ رسول ځوي دے، په کربلا کښې شهيد شو۔ [(7)] هم داسې نور هم صحابهٔ کرام او تابعين دي څوک چې د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره په کربلا کښې شريک شوي وو، د حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مخې ته يې ځان ډال

---

[1] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم:266، جلد:1، صفحہ:110۔

[2] ... مراۃ الزمان، جلد:8، صفحہ:137۔

[3] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم:6180، جلد:5، صفحہ:7۔

[4] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم: 6477، جلد:5، صفحہ:111۔

[5] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم: 1279، جلد:1، صفحہ:468۔

[6] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم: 3657، جلد:3، صفحہ:202۔

[7] ... الاصابہ فی تمییز الصحابہ، رقم: 8439، جلد:6، صفحہ:247۔

کړے وو او ولاړ وو او شهيدان شول۔[1]

بهر حال چې څوک هم د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره په دې عظيم مقصد کښې شريک وو، شهيدان شول يا اَسِير (يعني قيد کړے شول)، مونږ د ټولو منونکي، د ټولو سره مَحَبَّت کوونکي، د ټولو اَدَب کوونکي يو۔ امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ ليکي:

| | |
|---|---|
| یا حُسَین اِبن علی مشکل کُشا | آپ کے سب جاں نثاروں کو سلام |
| اَکبرو اَصغَر پہ جاں قربان ہو | میرے دِل کے تاجداروں کو سلام |
| جس کسی نے کربلا میں جان دِی | ان سبھی ایمان داروں کو سلام |
| رحمتیں ہوں ہر صحابی پر مُدام | اور خصوصاً چار یاروں کو سلام |
| جو حسینی قافلے میں تھے شریک | کہتا ہے عطّارؔ ساروں کو سلام[2] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کربلا د شهيدانو فضائل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د کربلا د ننګيالو هم څومره ښکلے شان دے۔۔۔!! دا هغه خوش قِسمته دي چا چې د دِين بے مثاله خِدمت وکړو، هغوئي خپل ځانونه قربان کړل او د يزيدي فتنې نه يې دِين بچ کړو او د اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره يې د بے مثاله مَحَبَّت مثال قائم کړو۔ د قرآن کريم د ډيرو آيتونو مبارکو په رڼا کښې د دوئي فضيلت معلوميږي۔ راځئ چې 2 آيتونه واورو:

**(1):** الله پاک فرمائي:

---

[1]... سوانح کربلا، صفحہ:150 بتصرف۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:605 تا 607 ملتقطاً۔

فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا وَ قُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِؕ وَ اللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ (۱۹۵)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پس کومو خلقو چې هجرت وکړو او د خپلو کورونو نه اُوویستلے شول او هغوئي ته زما په لاره کښې تکليف ورکړے شو او هغوئي جهاد وکړو او قتل کړے شول نو زۀ به ضرور د هغوئي ټول ګناهونه د هغوئي نه لرې [معاف] کړم او ضرور به هغوئي داسې باغونو ته داخل کړم د کومو نه لاندې چې نهرونه بهيږي (دا) د الله د بارګاه نه اجر دے او صرف د الله سره ښه ثواب دے۔
(پاره:4، ال عمران:195)

د دې نه معلومه شوه چې هٰغه خلق کومو چې د دِين د پاره خپل کور کلے پريښودو، د الله پاک په لار کښې ورته تکليف ورسيدو، د رَبّ د دښمنانو سره يې جنګ وکړو او شهيدان کړے شول، هغوئي به الله پاک د جنّت باغونو ته داخلوي، هٰغه باغونه د کومو نه لاندې چې نهرونه بهيږي۔

(2): په دويمه سيپاره سورهٔ بقره، آيت: 218 کښې الله پاک فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ الَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ جٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اُولٰٓىٕكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه هٰغه خلق چې ايمان يې راوړو او هغوئي چا چې د الله د پاره هجرت وکړو او د الله په لاره کښې يې جهاد وکړو، هغوئي د الله د رحمت اميدوار دي او الله بخښونکے، مهربانه دے۔

د دې آيت مبارک نه معلومه شوه چې څوک د دِين د پاره کور کلے پريږدي، د الله پاک په لار کښې د دِين د دښمنانو سره وجنګيږي، دا څوک دي؟ هٰغه خلق دي کوم چې د الله پاک د رحمت نه اُميد ساتي، بے شکه الله پاک بخښونکے مهربانه دے، په دې خوش قِسمتو باندې به ضرور د رحم او کرم باران وکړي۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا صفتونه کوم چې پهٔ دې آيتونو مبارکو کښې بيان کړے شول، د کربلا پهٔ شهيدانو، د اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ ننګيالو کښې موجود دي، دا هٰغه خوش قِسمته دي ❁ چا چې دِين د يزيدي فتنې نه د بچ کولو د پاره خپل کور کلے پرېښودو ❁ د کربلا ميدان ته لاړل ❁ د ظلم زور د طوفانونو مخې ته لکه د غر ودريدل ❁ د صبر او برداشت يـې يو عظيم مثال قائم کړو او ❁ د الله پاک پهٔ لار کښې وجنګيدل او د شهادت مرتبه يـې حاصله کړه۔

## د کربلا شهيدان به بے حسابه جنَّت ته ځي

**پهٔ روايت کښې دي:** د جنګِ صِفِّين موقع وه، د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د کربلا پهٔ ميدان تيريدلو، دلته هغوئي د سحر نـمونځ ادا کړو، بيا يـې د دې ميدان نه يو موټے خاوره راواخستله، هغهٔ يـې بوئي کړه، بيا يـې د درد نه پهٔ ډکه لهجه کښې ووئيل: اَوه...! اَوه...!! دا هٰغه ځائے دے چرته چې به يوه ډله شهيده کولے شي، هٰغه ټول به بغير د حساب نه جنَّت ته داخليږي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د کربلا د شهيدانو...!! د دې روايت نه د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عِلمِ غيب هم واضحه دے چې کومه واقعه به څو کاله پس کيدله، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د وړاندي نه د هغې خبر ارشاد کړو۔

يہ شان ہے اُن کے غُلاموں کی | سرکار کا عالم کیا ہو گا...؟

بيا د دې روايت نه دا هم معلومه شوه چې د کربلا ټول شهيدان که هغه اهلِ بيتِ اَطهَار دي او که صحابهٔ کرام يا تابعين، کومو خوش قِسمتو چې پهٔ اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل ځانونه قربان کړل، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ټول به بغير د حساب نه جنَّت ته داخليږي۔

[1]... تاريخ دمشق، جلد:14، صفحه:199۔

| | |
|---|---|
| کربلا تیری بہاروں کو سلام | جاں نثاری کے نظاروں سلام |
| قاسم و عبّاس پر ہوں رحمتیں | کربلا کے شہسواروں کو سلام |
| جس کسی نے کربلا میں جان دی | ان سبھی ایمانداروں کو سلام |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په کربلا کښې د ځان قربانوونکو عبادت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په کربلا کښې د ځان قربانوونکو کردار ډېر اوچت وو، هغوئي ډېر عبادت ګزاره، نيکان او پرهيزګاران وو. **په تاريخ طبري کښې روايت دے:** د کربلا د واقعې په آخرى شپه (يعني د کومې شپې په سحر چې د کربلا واقعه راپېښه شوه) د کربلا ټولو اهلِ بيتو دا شپه په عبادت او رياضت کښې تيره کړله، دې خوش قِسمتو به په دې شپه کله نفل نمونځونه کول، کله به يې توبه او اِستِغفَار کولو او کله به يې د الله پاک په حُضُور کښې په ژړا ژړا دعاګانې کولې.[1]

**سُبْحٰنَ الله!** د کربلا والؤ څومره ذوق دے ---!! دښمن يې مخې ته ولاړ دے، اوبه بندې دي، حالات او واقعات دا بيانوي چې د ژوند بس آخري شپه ده، د هر اړخ نه مشکلاتو او پريشانو راګير کړي دي او دا د الله پاک نيکان بندګان دي چې په ذوق او شوق کښې يې هر مشکل او هره پريشاني هيره کړې ده او د خپل رَبّ په لور يې توجُه کړې ده او ولاړ دي.

| | |
|---|---|
| یہ غازی، یہ تیرے پُراَسرَار بندے | جنہیں تُو نے بخشا ہے ذوقِ خُدائی |
| دو عالم سے کرتی ہے بیگانہ دِل کو | عجب چیز ہے لذّتِ آشنائی |
| شہادت ہے مطلوب و مقصودِ مؤمن | نہ مالِ غنیمت، نہ کِشور کشَائی[2] |

**وضاحت:** يعني اے کريم مالکه! دا غازيان هم ستا څهٔ عجيبه بندګان دي، په دوئي

[1]... تاريخ طبرى، السنة الحادية و الستون، فيها مقتل الحسين جلد:3، صفحه:315 ـ

[2]... کليات اقبال (اردو)، بالِ جبريل، صفحه:432 ـ

کښې د اِمامِت او پيشوايۍ ذوق وي، د دوئي زړونه ستا د مَحَبَّت نه ډک وي، هم د دې مَحَبَّت له وجهې دوئي د دواړو جهانونو نه بے پروا کيږي او بس هم بندګان پاتې شي، نهٔ دوئي مالِ غنيمت غواړي، نهٔ خپلې جنډې لګول غواړي، د دوئي مقصد، د دوئي مطلوب خو صرف دا وي چې د الله پاک پهٔ نوم باندې خپل سرونه قربان کړي او پهٔ دې وجه کامياب شي.

الله پاک دې زمونږه هم داسې ذوق، داسې شوق نصيب کړي...!! پهٔ مونږ خو که معمولي پريشاني راشي نو ❀ شور شروع کړو ❀ د بے صبرۍ نه کار اخلو ❀ ګيلې کوو ❀ د نيکو نه مخ اړوو، دا کربلا والا دي ❀ پهٔ دوئي کښې د الله پاک د مَحَبَّت جذبه ده ❀ ذوق لرونکي دي ❀ نيکان پرهيزګاران دي ❀ دا د رَبّ د رضا د پاره د خپل هر څهٔ قربانولو والا خلق دي ❀ هيڅ مشکل ❀ هيڅ پريشاني دوئي د رَبّ د دروازے نه نشي لرې کولے...!! الله پاک دې مونږ ته د دې کربلا والؤ فيضان راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د کربلا د وړومبي شهيد نا اشنا ارمان

د کربلا پهٔ ميدان کښې چې څومره خوش قِسمته شريک وو، د هٰغه ټولو ايماني جوش او جذبه هم ډيره د کمال وه. **پهٔ کتابونو کښې ليکلي دي:** د کربلا پهٔ ميدان کښې چې کوم وړومبي خوش قِسمته د شهادت مرتبه حاصله کړه، هغهٔ حضرت مُسلِم بن عَوسَجَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو. هغوئي د يزيد فوځ ته داخل شو، يزيديان يې خپل انجام ته ورسول، خپله بهادري يې وښودله، آخر چې کله زخمي شو او زمکې له يې تشريف يوړلو نو اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل مئين خوا له لاړو، بدن يې زخمي دے، وينه ترينه نه بهيږي، ساه يې راماته شوې وه، اوس يې بس آخري سلګۍ وې، اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغوئي خوا ته ورنزدې شو، حضرت حبيب بن مُظَهِّر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ورسره وو، حضرت حبيب ووفرمائيل: اے مُسلِمه! اے زما دوسته! ستا دې مبارک شي! د شهادت مرتبه حاصلوونکے او جنَّت ته تلونکے يې.

په دې وخت کښې د حضرت مُسلِم بن عوسجه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ايمان جذبه څنګه وه، واورئ! هغوئي د اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په لور اشاره وکړه او حضرت حبيب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته يې ووفرمائيل: اے حبيبه! تا ته زما وصيت دے چې زما د اِمام حفاظت کوه، شهيد شه خو چې زما اِمام ته هيڅ تکليف اونه رَسي۔ (1)

الله! الله! دا څنګه مَحَبَّت دے۔۔!! د ايمان څومره جوش دے، آخري سلګۍ يې دي، بس يو څو منټه پس د هغوئي بچي يتيمانان کيدونکي دي، کور وداني يې کونډه کيدونکي ده، په دې وخت کښې ورسره هم نهٔ د بچو فِکر دے او نهٔ د کور وداني فِکر دے، نهٔ ورسره د څهٔ بلې دنيائي معاملې فِکر دے، آؤ! چې کوم فِکر ورسره دے نو هغه هم دا يو فِکر دے چې زهٔ خو شهيد کيږم، زهٔ خو په خپل اِمام باندې ځان قربانووم، د دې نه پس چې زما اِمامِ ته تکليف اونه رَسي۔

د کربلا د يو بَل ځان قربانوونکي د ايمان تازه کوونکي قربانۍ ذِکر واورئ!

## د حضرت وَهب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځان قربانول

حضرت وَهب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بنو کَلب قبيلے ځلمے وو، والد صاحب يې وفات شوے وو، د بوډۍ کونډې مور يو ځوي وو، د نوي نوي واده يې صرف 17 ورځې شوې وې، يوه ورځ مور بي بي په ژړا د هغوئي خوا له راغله او اوئې فرمائيل: ځويه! تهٔ زما د سترګو نُور يې، زهٔ ستا د جدايۍ غم خو برداشت کولے نشم خو نن د قربانۍ وخت دے، د کربلا په ميدان کښې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے د صبر او استقامت امتحان ورکوي، زما خواهش دے چې تهٔ هم په اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ باندې خپل ځان قربان کړې۔

فرمانبرداره ځوي د مور په فرمائش باندې فوراً لبيک ووئيلو، ناوې کور وداني يې د خپلې نيکې ارادې نه خبر کړه او د کربلا د ميدان په لور روان شو۔ د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې يې سلام عرض کړو او په وخت راتلو باندې يې

1 ... البدايه و النهايه، جز:8، جلد:4، صفحه:579 ۔

اجازت وغوښتو او د جنګ میدان ته لاړو۔

**اَللّٰہُ اَکْبَر!** پهٔ ځلمي کښې د اهلِ بيتو مَحَبَّت او د جنَّت شوق پهٔ موجونو وو، یزیدیان ظالِمان يـې مخې ته راځي، حضرت وَهب رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ هغوئي د مولو او ګاځرو پهٔ شان کټ کوي، آخر د تورو زړونو خاوندانو يزيديانو پهٔ هغوئي باندې يو دَم حمله وکړه، هغوئي زخمي شول او زمکې له يـې تشریف يوړلو، فوراً يو يزيدي ظالِم راوړاندې شو او د هغوئي سر يـې د تَن نه جُدا کړو۔ د هغوئي سَر د هغوئي مور بي بي پهٔ خپله جولۍ کښې کيښودو، د مَحَبَّت نه يـې پرې لاس راښکل او اوئې وئيل: ځويه! اوس ستا مور ستا نه راضي شوه، بيا د هغوئي سَر د تازه راواده شوې ناوې پهٔ غيږه کښې کيښودے شو، ناوې هم هٰغه وخت سلګې ووهلې او د هغې رُوح هم پرواز وکړو۔ (1)

سُر خروئی اسے کہتے ہیں کہ راہِ حق میں | سر کے دینے میں ذرا تو نے تأمّل نہ کیا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې د اهلِ بيتِ اَطهَار رَضِیَ اللہُ عَنْہُم مَحَبَّت او د شهادت جذبه هم څومره عظیم نعمت دے، صرف د 17 ورځو د واده ځلمے وو او د کربلا پهٔ ميدان کښې د دښمنانو د غټ لښکر سره جنګيدو او د شهادت مرتبه يـې حاصله کړه او د جنَّت حقدار جوړ شو۔

## عظيمه قرباني، نا اشنا اِنعام

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږ له هم پکار دي چې د دِين پهٔ خاطر د قربانۍ د پاره هميشه تيار اوسو، چې کله هم د دِين د پاره د قربانۍ موقع راځي نو بالکل شاته نه پاتې کيږو، پهٔ خوشحالۍ سره، پهٔ استقامت او حوصلې سره، د ډيرې بهادرۍ او شان سره قرباني ورکوو، د دې چې به کوم انعام ميلاوېږي، **اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!** مزې به مو وي۔ راځئ چې زهٔ تاسو ته د الله پاک پهٔ لاره کښې د ورکړے شوې يوې عظيمې قربانۍ او پهٔ هغې باندې د ميلاؤ شوي انعام پهٔ باره کښې وايم۔

---

1... سوانح کربلا، صفحہ:141 تا 146 ملخصاً۔

یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وو د چا نوم مبارک چې **سَعد** وو او رنګ یې تور وو، یوه ورځ پۀ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آیا زما د تور رنګ پۀ وجه باندې به ما جنّت ته د داخلیدو نه منع کولے شي؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: آیا تۀ پۀ الله او پۀ رسول ایمان لرې؟ عرض یې وکړو: آؤ جي! زۀ 8 میاشتې مخکښې مسلمان شوے یم. اوئې فرمائیل: پۀ خدائے مې دې قَسم وي! بیا به ستا رنګ تا د جنّت نه نۀ منع کوي.
حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! چې خبره داسې ده (تور رنګ جنّت ته پۀ تللو کښې خنډ [یعنې رکاوټ] نه دے) نو بیا ما له څوک رشته ولې نه راکوي؟
اوس اَصلي معامله واضحه شوې وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: تۀ د فلانکي صحابي کور ته لاړ شه! هغوئي ته ووایه چې د الله پاک رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د لور نکاح زما سره کړې ده.
حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغه صحابي کور ته لاړو، د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پیغام یې هغوئي ته ورسولو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** فرمانبرداره وو، هغوئي چې پیغام واوریدو نو فوراً بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او د خپلې لور نکاح یې د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره وکړه. بیا خوږ نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د پاره د پیسو بندوبست وکړو، هغوئي پیسې واخستې او خپلې کور وداني له د څۀ څیزونو اخستو د پاره بازار ته لاړو.
اوس دا موقع د قربانۍ ده، پته نه لګي چې د کوم وخت نه به یې پۀ زړۀ کښې د واده ارمان وو، نن هغه ارمان پوره شو، د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوس اوس نکاح شوې ده، لا خپله کور وداني یې لیدلې هم نه ده، پۀ بازار کښې یې د خپلې ناوې د پاره څیزونه اخستل چې اِعلان وشو: اے خلقو! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنګ د پاره روانیږي، تول زر حاضر شئ. حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

چې دا اعلان واوريدو نو مخ يې د اسمان پهٔ لور کړو او اوئې وئيل: اے کريم الله! زهٔ به دا پيسې ستا او ستا د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا د پاره خرچ کووم۔ هغوئي پهٔ هٰغه پيسو باندې يو آس، يوه نيزه، يوه توره او يو ډال واخستو او عمامه يې په سر کړه، د جنګ تيارے يې وکړو او د اِسلامي لښکر سره يو ځائے شو۔ پهٔ جنګ کښې شريک شو، ډير پهٔ بهادرۍ سره وجنګيدو، ډير دښمنان يې دوزخ ته ورسول، آخر د جنګ پهٔ ميدان کښې يو اواز وشو: **سعد پهٔ نيزه ولګيدو او هغهٔ شهيد شو۔**

دا قرباني وه، پهٔ دې جنګ کښې خو به نور هم ډير صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم شهيدان شوي وي خو د حضرت سَعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پهٔ شان به چا خپله نوې راواده شوې ناوې پهٔ انتظار نه وي پريښودې، پهٔ زړهٔ کښې به د خپلو ارمانونو غلي کولو سره شايد چې څوک نه وو راغلي، ځکه د هغوئي قرباني د نورو پهٔ نسبت باندې ډيره مختلف وه، د دې قربانۍ شان ځانګړے وو۔ پهٔ دې عظيمه قربانۍ باندې هغوئي ته څهٔ انعام ميلاؤ شو، لږ واورئ!

**پهٔ روايت کښې دي:** چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سَعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهادت نه خبر شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو فَرَفَعَ رَاْسَهٗ وَوَضَعَهٗ عَلٰى حِجْرِهٖ رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي سَر راوچت کړو او پهٔ خپله جولۍ مبارکه کښې يې کيښودو وَ مَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ التُّرَابَ بِثَوْبِهٖ او پهٔ خپلو کپړو باندې يې د هغوئي مخ د خاورو نه صفا کړو او اوئې فرمائيل: مَا اَطْيَبَ رِيْحَكَ وَ اَحَبَّكَ اِلَى اللهِ وَ رَسُوْلِهٖ (اے سَعده!) ستا خوشبوئي څومره ښکلې ده، تهٔ د الله او د رسول څومره خوښ يې--!!

الله! الله! د حضرت سَعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پهٔ نصيب باندې دې پهٔ زرګونو سرونه قربان وي، څومره ځانګړے نصيب يې دے، زمانه چې د چا د يو نظر ليدو د پاره ليواله ده، فرښتے چې د چا په دَر باندې د حاضرۍ خواهش لري، هٰغه د اوچتې مرتبے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا د اُمَّتي کيدو خواهش چې انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام

کوي، هٰغه دا خدائے محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپل صحابي باندې ډېره شفقت فرمائي، چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي سَر پهٔ خپله جولۍ کښې کېښودے وي، پهٔ خپلو کپړو باندې يې د هغوئي مخ د خاورو نه صفا کړے وي نو صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنۡهُم به پهٔ هغوئي باندې ډېره رَشک کړے وي---!!

خو دا انعامات دلته ختم نهٔ شول، پهٔ روايت کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وَژړل، بيا مُسکے شو او خپل مخ مبارک يې يو اړخ ته واړولو او اوئې فرمائيل: **وَرَدَ الْحَوْضَ وَ رَبِّ الْكَعْبَةِ** د کعبے پهٔ رَبّ مې دې قَسم وي! سَعد حوضِ کوثر ته رسيدلے دے۔
صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنۡهُم عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو وړومبے وژړل، بيا مُسکي شوئ او مخ مبارک مو يو اړخ ته واړولو، پهٔ دې کښې څهٔ حِکمت وو۔ اوئې فرمائيل: ما د سَعد پهٔ مَحَبَّت کښې وژړل او الله پاک چې سَعد ته کوم مقام عطا کړو، هغهٔ له چې يې ډېره عزت ورکړو، هغې ته چې مې وکتل نو مُسکے شوم او ما وليدلې چې جنّتي حُورې کومې چې د سَعد پهٔ نِکاح کښې ورکړے شوې، هغوئي پهٔ منډه د هغوئي خوا له راتللې، د هغوئي نه د حياء پهٔ وجه ما خپل مخ مبارک واړولو۔ (1)

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا ده قرباني---!! او دا دے د قربانۍ اِنعام---!!

جس دھج سے کوئی مقتل میں گیا، وہ شان سلامت رہتی ہے
یہ جان تو آنی جانی ہے، اس جاں کی کوئی بات نہیں

---

[1]... تنبيہ الغافلين، صفحہ:353، 354 ملخصاً۔

**وضاحت:** مرگ خو به هم هر بنده له راځي، که په بستره باندې وي او که په بَل ځائے کښې، داسې بنده عام طور هير کړے شي خو ځوک چې د الله پاک د نوم د کلمې د سر لوړي د پاره د دې دُنيا نه رخصت شي نو هغه تر تر تله ياد ساتلے شي۔

## د خبرو غازيان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْھُم به د دِين په لاره کښې څنګه قرباني ورکولې۔ خو آه! نن مونږ بهانې کوو ❀ زمونږ سره د دُنيا د هر يو کار د پاره وخت شته خو د دِين د خِدمت د پاره ❀ د قرآن او حديث زده کولو د پاره ❀ د عِلمِ دِين حاصلولو او نورو ته د رَسَوَلو د پاره راسره وخت نشته ❀ د خپل عيش او عشرت د پاره په زرګونو په لکونو روپۍ هم لګوو خو د دِين د خدمت د پاره د مال قربانولو لړ کښې مو زړهٔ درزيږي ❀ د خپلو صلاحيتونو استعمالولو سره خو ډيره دُنيا راجمع کوو خو د دِين د پاره خپل صلاحيتونه نهٔ وړاندې کوو ❀ د ځان قرباني خو غټه خبره ده، مونږ خو د وخت او مال قرباني هم نشو ورکولے۔۔۔!!

تھے تو آباء وہ تمہارے ہی مگر تم کیا ہو...؟ | ہاتھ پر ہاتھ دھرے مُنتَظِرِ فردا ہو

**وضاحت:** مخکښيني مسلمانان ځوک چې زمونږ پلار نيکونه وو، هغوئي به د الله پاک په لار کښې د خپلو ځانونو د نذرانو وړاندې کولو نه لړه شان ډده هم نه کوله خو نن زمونږه حالت دا دے چې يو ښپه مو په بَله اړولې وي او د غيبي امداد انتظار کوو۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** چې نن مونږ غور وکړو! آخر هغه کومه يوه جذبه وه د کومې جذبې لاندې چې اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ داسې عظيمُ الشانه قرباني پيش کړه، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْھُم قدم په قدم قرباني ورکړې۔ خبره هم دا ده چې ❀ هغوئي د اوچتې مرتبے کامِل ايمان والا وو ❀ په هغوئي کښې د ايمان جذبه وه او ❀ آه! نن سبا اکثر مسلمانان د ايمان د کمزورۍ ښکار دي ❀ د هغوئي مخې ته به هر وخت د الله او د رسول رضا وه خو افسوس چې نن سبا د مسلمانانو اکثريت اوس دې اړخ ته هډو توجه نه ورکوي ❀ په هغوئي کښې د الله او د رسول د مَحَبَّت

جذبه وه خو آه! نن سبا زياتره مسلمانان د دُنيا پهٔ مَحَبَّت کښې غرق دي 🌸 هغوئي د اعلیٰ کردار مالکان وو خو نن اکثر مسلمانان صرف د خبرو غازيان جوړ شوي دي.

🌸 آه! افسوس چې مونږ د دُنيا پهٔ مَحَبَّت کښې ډوب شو 🌸 د الله پاک د رضا د کارونو نه لرې وتو 🌸 خپل ژوند مو پهٔ ګناهونو ککړ کړو 🌸 او د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عامِل جوړيدو پهٔ ځائے مو د غيرو خلقو فيشن اختيار کړو او خپل حالت مو پخپله خراب کړو. افسوس! ډير افسوس چې مونږ د بے عملی پهٔ سبب د ذِلت او رسوايی ژورې کندې ته ډير پهٔ تيزی سره غورځيږو.

| | |
|---|---|
| اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وَقتِ دُعا ہے | اُمّت پہ تِری آ کے عجب وقت پڑاہے |
| جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے | پردیس میں وہ آج غریب الغربا ہے |
| ہم نیک ہیں یا بد ہیں پھر آخر ہیں تمہارے | نسبت بہت اچھی ہے اگر حال برا ہے |
| تدبیر سنبھلنے کی ہمارے نہیں کوئی | ہاں ایک دعا تیری کہ مقبولِ خدا ہے |

## د ذِمّه واری احساس پيدا کړئ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږ له پهٔ سنجيدګی سره د خپل کردار جائزه اخستل پکار ده 🌸 پهٔ مونږ باندې لازم دي چې د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه کړو 🌸 پهٔ خپل ځان کښې د ايمان جوش پيدا کړو 🌸 او دا ذهن جوړ کړو چې مونږ ته ضرور د دِين خدمت کول دي 🌸 کاش چې ټول دا مَدَني مقصد اختيار کړي چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!**

د يو مسلمان پهٔ حيث که مونږه پهٔ خپلو ذِمه وارو پوهه شو، د الله او د رسول پهٔ مَحَبَّت کښې ډوب شو او د دې مَدَني مقصد پهٔ پوره کولو مو لاس پورې کړو نو **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** پهٔ دواړو جهانونو کښې به مو بيړۍ پورې وځي.

## د نيکی د خبرو د ښودلو فضيلت

اِمام ابو نُعَيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي ووفرمائيله چې

اے موسیٰ! د نیکۍ خبرې پخپله هم زده کړه او نورو ته یې هم وښایه چې زۀ به د نیکۍ زده کوونکو او ښودونکو قبرونه روښانه کووم د پاره د دې چې د هغوئي سره هیڅ قِسمه ویره نه وي۔ (1)

## د مبلغینو قبرونه به روښانه وي

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې روایت نه د نیکۍ د خبرو زده کولو او ښودلو اجر او ثواب معلوم شو۔ **سُبْحٰنَ الله!** څوک چې د سُنَّتو نه ډک بیانونه کوي، دَرس ورکوي او اوري، **اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!** د هغوئي خو به پۀ مزو سر وي، که الله پاک وغوښتل نو ضرور به د هغوئي قبرونه روښانه وي، څوک چې د نیکۍ دعوت عام کوي، پۀ مَدَني قافلو کښې د سفر پۀ ذریعه د نیک اعمال ترغیب ورکوي، د سُنَّتو نه پۀ ډکو اجتماعاتو کښې د شرکت دعوت ورکوي، **اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!** د هغوئي قبرونه به هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور پۀ برکت نُوْرٌعَلٰی نوْرٌ وي۔

قبر میں لہرائیں گے تاحَشر چشمے نور کے | جلوہ فرماہوگی جب طَلعَت رسول الله کی

## جنَّت ته داخلیدل او د تیرو ګناهونو کفّاره

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** هٰغه اِسلامي ورونړه کوم چې د عِلمِ دِین زده کولو پۀ نیت پۀ مَدَني قافلو کښې سفر کوي، د هغوئي د پاره جنَّت ته د داخلیدو او د تیرو ګناهونو د کفارې زیرے دے۔ **(1):** د حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے: مَنْ غَدَا وَ رَاحَ وَ هُوَ فِيْ تَعْلِيْمِ دِيْنِهٖ فَهُوَ فِي الْجَنَّةِ یعني څوک چې د خپل دِین د عِلم زده کولو د پاره سحر یا ماښام لاړ شي، هغۀ جنَّتي دے۔ (2) **(2):** پۀ یو حدیثِ پاک کښې دي: کوم کَس چې عِلم لټوي، نو دا کار به د هغۀ د تیرو ګناهونو کفاره شي۔ (3)

---

[1] … حلیة الاولیا، جلد:6، صفحه:5، رقم:7622۔

[2] … حلیة الاولیا، جلد:7، صفحه:295، رقم:10581۔

[3] … ترمذی، کتاب العلم، باب فضل طلب العلم، صفحه:624، حدیث:2648۔

# د دُنیا حاصلولو د پاره سفر

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** لږ غور خو وکړئ چې نن سبا خلق د مال زیاتولو د پاره د خپل ښار نه بَل ښار، د خپل ملک نه بَل ملک ته ځي ❀ د مور پلار ❀ خوئیندو ورونړو ❀ او د بال بچ نه په کلونو لرې پراته وي۔ آه! نن سبا د دُنیا حاصلولو د پاره زیاتره خلق قِسما قِسم قربانۍ ورکوي خو د دومره عظیمُ الشان اَجر او ثواب د زیري باوجود د الله پاک په لار کښې د یو څو ورځو د پاره په مَدَني قافله کښې سفر کولو ته تیار نه وي۔

لږ سوچ خو وکړئ چې صحابهٔ کرامو، اهلِ بیتِ پاک او د کربلا شهیدانو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د الله پاک په لار کښې څومره قربانۍ ورکړې دي، د الله پاک په لار کښې په سفر کولو کښې یې ښه پوره حصه واخسته، دا هم د هغوئي د قربانو برکت دے چې نن سبا په دُنیا کښې په هر لور د دِینِ اِسلام سپرلي دي، بهر حال! یو خوا صحابهٔ کرام او اَهلِ بیت رَضِیَ اللهُ عَنْهُم دي د چا ژوند چې د دِین د سر لوړي د پاره وقف وو او بل خوا مونږه غافلان خلق یو د چا شپه ورځ چې صرف او صرف هم د دُنیا د ترقۍ د پاره لکه چې وقف وي۔

مونږ له هم همت کول پکار دي، مونږ له هم د ایماني جذبې ثبوت ورکول پکار دي۔ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول په ځانګړي انداز کښې د کربلا والؤ قربانو ته د عقیدت پیرزوني وړاندې کوي، د الله پاک په فضل سره د کربلا د شهیدانو د ایصالِ ثواب د پاره هر کال هم په **8، 9 او 10 مُحَرَّم شریف** مَدَني قافلې سفر کوي، تاسو هم همت وکړئ! د ایماني جذبې ثبوت ورکړئ او د کربلا والؤ د ایصالِ ثواب د پاره د مَدَني قافلې مسافر جوړ شئ! **اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!** د دِین او دُنیا بے شمیره خیرونه به درنصیب شي۔

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| قرض ہو گا ادا، آ کے مانگو دُعا | پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو |

د اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د هغوئي د ملګرو پهٔ وسيله دې الله پاک مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسةُ الـمدينه بالِغان

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حاصلولو او د اهلِ بيتو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم سره د مَحَبَّت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط کړئ! د ذيلي حلقے پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پهٔ شوق برخه اخلئ! **اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم!** د دې به ډير برکتونه درنصيب شي- د ذيلي حلقے پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدرسةُ الـمدينه بالِغان** هم دے-

❁ **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** پهٔ تاسو کښې بهتر هغهٔ دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يې] وښائي- (1) ❁ قرآنِ کريم د الله پاک کتاب دے ❁ د بندګانو پهٔ نوم د رَبِّ کريم پيغام دے ❁ **خو افسوس** چې نن سبا مسلمانان د قرآنِ کريم نه ورځ پهٔ ورځ لرې کيږي ❁ ډير خلق پهٔ کتلو هم صحيح قرآنِ کريم نه شي لوستلے ❁ څوک يې چې لولي هغوئي هم پهٔ تجويد او مخارج کښې داسې غلطيانې کوي، چې د هغې پهٔ وجه يې نمونځ هم نه کيږي- ❁ **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** پهٔ مدرسة الـمدينه بالغان کښې يواځې قرآن کريم نهٔ ښودلے کيږي بلکې ❁ فرض عُلوم ❁ د نمونځ اَحکام ❁ مختلفې دُعاګانې ❁ سُنَّت او آداب ❁ د دَرس او بيان طريقه ❁ او د مسئلو ښودلو سره سره د الله پاک د ويرې او د عشقِ رسول د نمونې جوړولو کوشش هم کولے شي-

(1)… بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من ...الخ، صفحہ:1299، حدیث:5027-

## د بدو کارونو نه نجات حاصل شو

د حيدر آباد (سندهـ) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: چې د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زهٔ د دُنيا پهٔ رنګينو کښې ورک ووم او د غفلت نه ډک ژوند مې تيرولو۔ مَعَاذَ الله! اکثر به مې د ځان سره سندرې وئيلې، زما د [مور د اړخه د] ترور ځوي چا چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تعلق لرلو هغهٔ به ما ته پهٔ مدرسةُ المدينه بالِغان کښې د قرآنِ کريم د لوستلو دعوت راکولو، د هغهٔ انفرادي کوشش رنګ راوړو او ما يوه ورځ پهٔ مدرسةُ المدينه بالِغان کښې شرکت وکړو۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! پهٔ مدرسةُ المدينه بالِغان کښې د تعليم حاصلولو پهٔ برکت ما د صحيح مخارج سره د قرآنِ کريم لوستل هم زده کړل او د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راغلم او پهٔ دِيني کارونو کښې هم مصروف شوم۔ هم د دې دِيني کارونو پهٔ برکت اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! زما دوه ځله د عمرې سعادت هم نصيب شو۔ (1)

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| سلامت رہے یاخدا دینی ماحول | بچے بد نظر سے سدا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده (***Madani Qaida***) دے۔ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعنې پهٔ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پهٔ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، پهٔ آډيو (***Audio***) کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پهٔ مرستې سره پهٔ

[1]… سینما گھر کا شیدائی، صفحہ:7۔

اسانیٔ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (**Practice**) کول او صحیح مخارج او ضروري تجوید زده کیدے شي۔ دا ایپلي کیشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ۔

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د **مُحَرَّم شریف** میاشت جاري ده، **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** د وړومبي **مُحَرَّم شریف** نه امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ روزانه د ماسخوتن د نمونځ نه پس پهٔ مَدَني چینل لائیو **مَدَني مذاکره** کوي، دا سلسله به د یولسم **مُحَرَّم شریف** پورې روانه وي، ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستو اعلان کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د اَمیرِ اهلِسُنَّت د ساداتِ کرامو سره مَحَبَّت** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (**Share**) کړي! ❁ پهٔ دُنیا کښې د دِینِ اِسلام د خپرولو او د دې د بقا او سر لوړي د پاره صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ اَطهَار رَضِیَ اللہُ عَنْہُم ډیرې قربانۍ ورکړې دي، هم پهٔ دې قربانو کښې یوه قرباني د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خپلو ملګرو سره د کربلا پهٔ میدان کښې شهید کیدل هم دي۔ صدرُ الافاضل مولانا سیّد محمد نعیم الدین مراد آبادي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ دا واقعه د یو کتاب پهٔ شکل کښې لیکلې ده، کوم چې مکتبة المدینه د **سوانح کربلا** پهٔ نوم چاپ کړے دے۔ تاسو هم دا کتاب پهٔ **210 روپۍ** د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پهٔ بیعه واخلئ۔ پخپله یې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي۔ [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د اِيصالِ ثواب سُنَّت او آداب

د **مُحَرَّم شريف** مياشت جاري ده، د اهلِ بيتِ اَطهَار رَضِىَ اللهُ عَنْهُم بنه ډير ذِکرِ خير وکړئ! ❀ پهٔ کور کښې ❀ پهٔ دفتر کښې ❀ پهٔ دُکان کښې ❀ چې چرته درنه کيدے شي، د کربلا د شهيدانو او اسيرانو [ يعني پهٔ کربلا کښې د قيد شوؤ صحابهٔ کرامو او تابعينو] رَضِىَ اللهُ عَنْهُم د ايصالِ ثواب اهتمام وکړئ! **ياد ساتئ چې ايصالِ ثواب د خوږ نبي، مکي مَدَني** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مبارکه ادا ده. پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه ګډان ذبح کړل، د يو ثواب يې ټول اُمَّت ته ورسولو او يو يې د ځان او د خپلو اهلِ بيتو د پاره ذبح کړو۔ [2]

د صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم پهٔ مبارک وخت کښې د اِيصالِ ثواب مختلفي طريقې رائج وې مثلاً ❀ يعني دې خلقو به د مړي د طرف نه تر 7 ورځو پورې ډوډۍ ورکوله۔ [3] ❀ د وفات شوي د قبر سره به يې د قرآنِ کريم تلاوت کولو۔ [4] ❀ حضرت اِمام حَسَن او حضرت اِمام حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهما به د خپل والدِ محترم يعني د

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]... ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب اضاحی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:509، حديث:3222۔

[3]... الحاوی للفتاوٰی، طلوع الثريا باظهار ماكان خفيا، صفحه:591۔

[4]... شرح الصدور، باب فی قراءة القرآن للميت...الخ، صفحه:218۔

❁ حضرت مولیٰ علي، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اِيصالِ ثواب د پاره غلامان ازادول. [1] ❁ حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خپلې مور بي بي د وفات نه پس د هغې د اِيصالِ ثواب د پاره د اوبو کوهے وکنستو. [2]

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ ليکي: ❁ د ايصالِ ثواب لفظي معنیٰ ده: ''ثواب رَسَوَل'' دې ته ''ثواب بخښل'' هم وئيلے شي خو د بزرګانو د پاره ''ثواب بخښل'' وئيل مناسب نه دي، ''ثواب نذرانه کول'' وئيل ادب ته ډير نزدې دي. ❁ فرض ❁ واجب ❁ سُنَّت ❁ نفل ❁ نمونځ ❁ روژې ❁ زکوٰة ❁ حج ❁ تلاوت ❁ نعت شريف ❁ ذِکرُ الله ❁ دُرُود شريف ❁ بيان ❁ دَرس ❁ مَدَني قافله کښې سفر ❁ علاقائي دورې ❁ د ديني کتاب لوستل ❁ د نيکئ دعوت وغيره هر نيک کار ايصالِ ثواب کولے شي. ❁ د اوليائے کرامو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡهِم فاتِحه خوړلو ته تعظيماً ''نَذر و نياز'' وئيلے شي او دا جائز دے، دا مالدارن او غريبانان ټول خوړلے شي ❁ د نياز او د ايصالِ ثواب په ډوډی د فاتحه لوستلو د پاره څوک رابلل يا په بهر ميلمه باندې خوړل شرط نه دے، د کور خلق که پخپله فاتحه ولولي او اوئې خوري بيا پکښې هم هيڅ باک نشته ❁ جومات يا مدرسے جوړول د صَدَقهٔ جارِيَّه او ايصالِ ثواب بهترينه ذريعه ده. [3]

د **مُحَرَّم شريف** په مناسبت سره د مختلفو کتابونو او رسالو مثلاً ❁ محرم کے فضائل ❁ فيضانِ اہلِ بيت ❁ کربلا کا خونی منظر ❁ سوانح کربلا ❁ آئینہ قيامت ❁ حُسينی دولہا ❁ اِمامِ حُسين کی کرامات لوستلو او تقسيمولو سره هم ايصالِ ثواب کيدے شي.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر

---

[1] ... مصنف ابن ابی شيبة، کتاب الجنائز، باب ما يتبع الميت بعد موته، جلد:3، صفحه:262، حديث:12۔

[2] ... ابو داود، کتاب الزكاة، باب فی فضل سقی الماء، صفحه:274، حديث:1681 مختصراً۔

[3] ... فاتحہ اور ایصال ثواب کا طریقہ، صفحہ:12-18 ملتقطاً۔

16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنۡ شَآءَ الله سر بسَر |
| جو بھی شیدائی ہے مدنی قافلوں کا یاخدا! | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا! |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔